محمد معصوم هوتک ۲۰۲۰/۱۲/۲۲

# صدراعظم

## سید نور محمد شاه پښيني کندهاری

### لسمه برخه

**ما څه موده پخوا د صدراعظم سيد نورمحمد شاه پښيني کندهاري په باب څو پرله پسي ليکني خپرې کړې. ځينو دوستانو راځخه وغوښتل چي که دا موضوع يو څه پسي پراخه سي، ښايي ګټوره به تمامه سي.**

**ما د دوی غوښتنه ومنله او د مدارکو په محسوسه نيستي کي مي دا څېړنه د يوه کتاب په بڼه ترتيب کړه. که محترم لوستونکي زما د دې حاضري ليکني او په دې باب د نورو خپرو سوو ليکنو ترمنځ مکررات ووينې، د مهرباني له مخي دې د احسن تکرار په سترګه ورته وګوري او ما دې وبخښي.**

م. هوتک

د سيد درجمال نيکه اولاده په بلوچستان کويټه ضلع پښين کي ميشته ده. او لوی لوی کلي ئي څنګ پر څنګ ودان کړي دي.

**د سيد در جمال نيکه څلور نارينه اولادونه پاته سوي دي:**

۱ـ ښادي نيکه چي اولاده ئي د ښاديزو په نامه په سرانانو کي کلي ودان کړي دي. په څنګ کي ئي ياسينزي سيدان هم اوسي. د ښادي نيکه مقبره په " آمندون" نومي ځای کي ده.
۲ـ حيدر نيکه چي اولاده ئي د حيدرزو په نامه کلي لري. مقبره ئي د زيارت په علاقه کي په " کواسته شريفه" نومي ځای کي ده.
۳ـ ابراهيم نيکه چي اولاده ئي د ابراهيم زو په نامه خو کلي لري.
۴ـ مرو نيکه چي ډېر اولادونه ئي پاته دي او ډېر کلي ئي په نومو ودان دي. مشهور کلي ئي دادي:

کښته او لوړ شنغری، عجبزي ، اسماعيلزي، حاجزي ، حرمزي، کاکازي او نور. په کښته شنغري کي ملک خېل، نيکه خېل، بخيزي ؟ او نور قومونه اوسي.
د صدراعظم سيد نورمحمد شاه کندهاري کورنی د "مرو نيکه" په ښاخ پوري ترلي ده او ډېره برخه ئي په کښته شنغري کي او څو کهولونه ئي په کندهار ښار کي اوسي چي تفصيل به ئي وروسته راسي . د پښين د سيدانو مشري د شنغري ساداتو په واک کي پاته سوې ده
سيد محسن اغا په مزارات کي د سيد در جمال نيکه د اولاد په باب داسي کښلي دي:

**دا قصه واوره اميرا**
**ځما وروره بي نظيره**
**چي د دُر جمال اولاد دي**
**هغه واړه ئي احفاد دي**
**څلور بڼه ښاغلي زويه**
**د حضرت وشوه خوشخويه**


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزی بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په څير و لولئ

اول زوی د ده ښادي و
چي ولي و نوراني و
دويم زوی د ده حيدر و
چي شجاع لکه صفدر و
دريم زوی د ده براهيم و
چي مشفق و هم رحيم و
څلرم زويه مړو و
چي ښايسته په ښو خويو و
له ښادي نه ښاديزي شو
له حيدره حيدرزي شو
له براهيمه براهيم زي شو
له مړو نه مړوزي شو
اولياء يکښي پيدا شوه
اتقياء يکښي برپا شوه
تمام پښين ئې کړ گلرنگه
ای خدا ياره خوشرنگه
اولياء که اتقياء دي
که تجار که اسخياء دي
که خانان که ملکان دي
د سيدانو نمايان دي
تول اولاد د دُر جمال دي
هم ښايسته په ښه کمال دي
مړوزي هر گوره ډېر دي
چي پر پښين باندي چارپېر دي
تمام پښين په دوی آباد دئ
د مړو په ښه اولاد دئ

محلي روايتونه وايي چي د سيد درجمال نيکه مقبره په کولالمپور- سريلانکا کي ده. خو سيدمحسن اغا ليکلي دي چي دی بيرته بخارا ته ولاړ او هوري وفات سو. د مزارات بيان داسي دئ:

شمع دين باطن ئې سپين دئ
مولانا جمال الدين دئ
چي روښانه په جمال و
درخشانه په کمال و
چي سيد د اولياء و
هم جيد د اتقياء و
په آخر د عمر جانه
شه رهي له خراسانه
بخارا ته ئې نيت کړ
د خپل ملک ئې عزيمت کړ
خپل اولاد ئې کړ تول جمع
دی په ميان کښي لکه شمع
نصائح ئې ورته وکړه
په وصيت سره ئې ښه کړه
تاسي ښه کوئ زامنو!
متفق اوسئ ميمونو
څما عمر ولاړ آخر شو
موت مي راغی ښه ظاهر شو
چي فراق څمونږ په ميان دئ


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينگه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزی ښي پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولـئ

**توکل مو پر منان دئ**
**شريعت کوئ زامنو!**
**طريقت کوئ ښادمنو!**
**له ګناهه اجتناب کړئ**
**ځان نزدې تر لوی جناب کړئ**
**اوس زه ځمه بخارا ته**
**په تعجيل و خپل ماوا ته**
**قبرستان مي د اجدادو**
**د اجدادو نېک نهادو**
**ځما هلته دئ دلبره**
**رب دي تا کړي بهروره**
**انتقال چي له دنيا کړم**
**و دی سپی دنيا ته شا کړم**
**نور به دفن شم جانانه**
**د پلرو په قبرستانه**
**بخارا ته نو روان شه**
**په سامان او په جوپان شه**
**هورې ورغی دلبره**
**د خپلوانو تر کِنډُره**
**ټول اقوام ئې شوه خوشحاله**
**مېلمستيا ئې کړه فی الحاله**
**نر و ښځي کړه شکرونه**
**په ديدن د ده موزونه**
**څو مدت خوښ و خوشحال شو**
**په آخر کښي تن ملال شو**
**په امراضو مبتلا شو**
**هم مريض په واويلا شو**
**څو روان شه و جنان ته**
**د جنان و ښه غلمان ته**
**له دنيا څخي رحلت کړ**
**و ښه خدای ته ئې وصلت کړ**
**نوراني و هم روحي شو**
**په انوارو کښي فاني شو**
**شه مدفون په بخارا کښي**
**د ديدار په تمنا کښي**
**هلتي قبر اوس معلوم دئ**
**هسي نه چي دی معدوم دئ**
**ټول عالم ترې فيض ياب دي**
**خوارق ئې ناياب دي**
**په رحمت د حق دي غرق شي**
**درخشان دي لکه برق شي**
**پرې دي فيض د رب اوري**
**په فردوس کښي [دي] دی ښوري**
**ښه رحمت دي پر نازل شي**
**مجلس دي جبرائيل شي**
**اې ښه خدايه متعاله**
**متعال و ذوالجلاله**
**خوار محسن کړې بهره يابه**
**د غفران د لوی دريابه**

---


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارئ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې ښې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

**هم مفيض ئي د فيضان کړي**
**هم انيس ئي په غفران کړي**
**کلام ختم په دعا شو**
**د خپل قوم په مدعا شو**
**ګوندي ياد مي په دعا کړي**
**او دعا څما تر شا کړي**

سيد محسن اغا په مزارات نومي کتاب کي د سيد دُرجمال نيکه د نسب په باب داسي ويلي دي:

**څما وروره ګلعذاره**
**د ښه خدای په نزد روی داره**
**څومبړ جد جمال الدين و**
**په سيدانو کښي تعين و**
**د پلار نوم ئي سيد حضرت و**
**د خالق پر ده رحمت و**
**سيد حضرت د سيد زبير و**
**چي په شرع کښي زمری و**
**د ساداتو شجر ګوره**
**د ګمانه دي خدای ژغوره**
**د ده ورور سيد جلال و**
**چي اولاد ئي مير کلال و**
**هم مريد ئي نقشبند و**
**د امير کلال دلبند و**
**په توران کښي لکه نمر و**
**و اوزبکو ته اظهر و**
**په خپل ملک کښي خانقاه وه**
**د هر شخص آرامګاه وه**
**هم ئي شغل د باطن کړ**
**هم ئي نفس شيطان ساکن کړ**
**نازورداره د سبحان و**
**هم رويداره د منان و**
**په ظاهر په باطن پور و**
**پر آسمان د عزت نور و**
**هميشه و په اذکار کښي**
**د اذکارو په انوار کښي**
**بخارا په دوی ګلرنګه**
**تمام خلق ئي کړه خوشرنګه**
**ديارلسم پښت ئي علي و**
**تول عالم ته منجلي و**
**ابن عم د مصطفی و**
**په نامه دی مرتضی و**

پښتانه په مجموع کي سيدانو ته ډېر درناوی لري او د افغانستان پاچهانو تر ادا وروستيو وختو(دنادرخان تر پاچهی پوري) د دوی جايدادونه له ماليي څخه معاف کړي ول. محلي حکومتونو هم ددوی جايدادونه (tax free) بللی دئ.د پښين د ساداتو جايدادونه د ۱۸۷۹م کال تر مي مياشتي پوري د همدغو پاچهانو له خوا له ماليي څخه معاف ول. په دغه کال چي ګندمک معاهدی له اسيته پښين دهند د برتانوي حکومت په ولکه کي راغی، نور نو د ماليانو له پاره نوي قوانين جوړ سولو خود يو لړ سياسي مصلحتو له امله له څينو مشکوکو قضيو پرته د ساداتو مځکي د پخوا په شان له ماليي څخه معاف وګڼل سوې. (۱۰۶)

---



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزی بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليرلو مخکي په څير و لولئ

دغه استثنايي سيستم ته د سياسي ملحوظاتو له اسيته د برتانوي حکومت تر وخته لا هم ادامه ورکول سوې ده او د بخاري او چشتي ساداتو مځکي ماليه نه لري. د خلکو په منځ کي ددوی نفوذ او قدرت د يادوني وړ دئ خو د پخوا په شان ډېر زيات نه دئ. ددوی ځيني مشران په جرگو کي د درناوی وړ مقام لري.

د کوټي کيراني (kirāni) سادات او هغه سيدان چي په ترينانو کي اوسي په ډېر و ښو امتيازاتو کي دي. د پښين جمالي، کربلا او چشتي سادات او د شوره رود مشواني په زمينداري او تجارت مصروف دي. د کوټي کيرالان، غرشين او تارڼ او چشتيان زمينداری لري...

بخاري سادات په سيمه کي تر نورو ټولو په شمېر کي زيات دي او د ۱۹۰۷م کال د احصائيې له مخي ۵۵۲۸ تنو ته رسېږي چي د ټول جمعيت په سلو کي يو اويايمه برخه کېږي او د عمده څانگو شمېر ئې په لاندي ډول دئ:

سمايلزي (شمالي و کوز شنغری) .... ۷۴۵ تنه
شاهېزي (شينغري) .... ۶۸۸ تنه
حرمزي .... ۵۲۸ تنه
ښاديزي .... ۵۰۰ تنه
ابراهيم زي .... ۴۵۰ تنه
گنگالزي .... ۴۳۱ تنه ؟؟
حاجيزي .... ۳۷۷ تنه
ياسينزي .... ۳۶۸ تنه
حجابزي (عجائب زي) ... ۱۶۴ تنه
البته په دي شمېر کي اوس ډېر زيات بدلون راغلی دئ.

بخاري سادات وايي چي دوی د سيد ډُرجمال اولاده ده. سيد ډُرجمال پښين ته له خپلو ورونو سيد ډُرجلال، سيد ډُر کمال ، او سيد ډُر دليل سره له مکې معظمې څخه په څورلسمه ميلادي پېړی کي راغلی وو او دلته ئې د هارون ترين له لور سره واده کړی وو. وايي ترينانو وروسته د سيد ډُرجمال اولادې ته د خپلو مځکو څلرمه برخه ورکړې وه.

د ښاديزو ټولنيز موقف تر ټولو نورو څانگو ډېر لوړ دئ دا په دې چي ددوی نيکه د سيد ډُرجمال مشر زوی وو. د بلوچستان گزېټر د ليکلو پر مهال ( ۱۹۰۱م) ئې په بخاري ساداتو کي د نامه کسان سيد محمد جان اغا،سيد محمد حسن شاه او سيد شاه عالم بللي دي...

په دغه وخت کي د نورو ساداتو او سيدانو ته د منسوبو ډلو شمېر داسي ښوول سوی دئ:

گيلاني يا جيلاني .... ۳۳تنه
کيرال يا کرال .... ۱۷۶تنه
کربلا .... ۸۸۵ تنه
غرشين .... ۳۱۲ تنه
مودودي يا چشتي ... ۳۱۱ تنه
قريشي .... ۵۱ تنه
تارڼ .... ۴۵۸ تنه
مشواني .... ۳۳۱ تنه

گيلاني يا جيلاني د شيخ عبدالقادر جيلاني ( ۱۰۷۷ ــ ۱۱۶۴م) ته منسوب دي.
کيرال يا کرال د افغانستان د امير سند په لاس کي لري چي دوی ئې علوي سيدان بللي دي. ددوی مځکي د افغان پولي ته څرمه واقع دي چي نيمايي ئې په افغاني خاوره کي او نيمايي ئې په برتانوي ساحه کي راځي. په پښين کي د کاکړو د توبې ژړ کڅ کلی ددوی په تصرف کي دئ.
د کربلا سيدان وايي چي دوی د هغه سيد ماشوم اولاده ده چي د سيد ډُرجمال خسر هارون ترين لوی کړی وو. دوی د پښين د سرخاب حلقې په کربلا نومي کلي کي اوسي او په تجارت مصروف دي. په پښين کي دوی تر ټولو ماړه او شتمن خلک دي.

غرشين وايي چي دوی د سيد اسحاق د شېرانی مېرمني اولاده ده. دوی د پښين په کاريزات کاکړي حلقه کي د کودين کلي په چشمهٔ غرشين کي مځکي لري. دغه راز د لورالايي په موسی خېل تحصيل کي هم جايدادونه لري. مشر ئې خانصاحب سيد مهر شاه دئ.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينگه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولـئ

د چشتي ساداتو لوی نیکه خواجه مودود نومېږي چي د هرات په چشت کي په ۱۰۳۹م کي زېږېدلی او په ۱۱۳۳م کي وفات سوی دئ. خواجه معین الدین چي په دوولسمه میلادي پېړۍ کي د شهرت څښتن وو او زیارت ئې په اجمیر کي دئ، هم چشتي وو. ددوی يو څو کورنۍ د پښين تحصيل په منځکی کي اوسي او اليزيو ترينانو د خپلو مځکو په شپږمه برخه کي شريک کړي دي. د کوټي په تحصيل کي د کيراني چشتي سادات وايي چي ددوی مشر نيکه خواجه نصرت الدين چي زيارت ئې د کوټي کلا ته نژدې واقع دئ، دوه سوه کاله پخوا له منځکی څخه کوټي ته راغلی وو. لمسی ئې ولي په کراني کي اوسېد. دوی وايي چي د افغان انګلیس په لومړۍ جګړه کي ئې برخه اخيستي وه  او په هغه وخت کي ئې مشر مبارک شاه نومېده.
په ضلع کي د ساداتو د هغه وخت تخميني شمېر داسي وو (۱۰۷):

پيڅي ....... ۸۲۲ تنه
حسيني.... ۳۶۱ تنه
غرشين ... ۳۶۰ تنه
تارڼ ..... ۲۷۶ تنه
بخاري ... ۱۴۰ تنه
بيدار ... ۱۳۱ تنه
بهلولزي ... ۵۷ تنه
مودودي .... ۱۷ تنه
کربلا .... ۱۳ تنه
خوستي .... ۱۲ تنه
قريشي .... ۱۱ تنه
متفرق ... ۶۲ تنه

په دوی کي مودودي  ( چشتي سادات) او کربلا سادات په ډُکۍ کي او خوستي سادات د بوري تحصيل په ژير کارېز کي استوګن وو.

پيڅي سادات د سيد بلال اولاده ده. دی د هغو څلورو ورونو څخه وو چي له بخارا څخه پښين ته راغلي ول. د سيد بلال په باب محلي روايت داسي دئ چي له سيد بلال څخه به مراد سيد بليل ( سيد ډُرکمال) وي. (۱۰۸)
د ۱۹۰۱م کال د احصائيي له مخي پيچي سادات ۸۲۲ تنه شمېرل سوي ول او تقريباً ټول په سنجاوۍ کي استوګن ول.

د همدغه کال احصائيه را ته وايي چي حسيني سادات ۳۶۱ تنه وو. دوی ته ( خوندي) سادات هم ويل کېږي او د محلي رواياتو له مخي ئې اصل وطن ( خُجند) دئ. (۱۰۹)
تارڼ ځانونه د سيد ابو طاهر اولاده بولي چي له بخارا څخه راغلي وو او د سيوی ضلع په خوست کي ئې څه موده استوګنه وکړه او بيرته بخارا ته ولاړ خو کورنۍ ئې دلي پاته سوه. د ۱۹۰۱م کال په احصائيه کي ئې شمېر ۲۷۶ تنه ښوول سوی دئ. دوی په سنجاوۍ او بوري کي مېشت دي. د سنجاوۍ د هغه وخت معتبره مشر ئې کوندل او د سنجاوۍ دا ملاسيف الدين نومېد.

په ۱۹۰۵م کال کي ئې د ګزيټر د ليکني له مخي مشران رحمت الله، ملابختيار،ملا حميد، ملا مقيم، ملا لطف الله، عبدالغفور او سيد لعل محمد نومېدل.

بيدار په بوري تحصيل کي په بيدار شاه کارېز، بيدار چينه کي اوسي.

بخاري سادات د سيد جلال اولاده ده او له همدې اسيته ئې جلالي سيدان هم بولي. سيد جلال د هغو څلورو ورونو په جمله کي دئ چي په څورلسمه سدۍ کي پښين ته له بخارا څخه راغلي ول. ترينان د دوی ډېر زيات عزت کوي او ددوی غټ استوګنځی د دارالايمن حيثيت درلود. د شاوخوا قبايلو به په دغه بست کي پناه اخيستله. دا ځای ورو ورو د ډاکوګانو او داړه مارانو په مرکز بدل سو. برتانوي جرنيل مک ګريګر پر هرنايي باندي د قبضي پر وخت پر دغه مرکز باندي پوځي بريد وکړ او کلی ئې وران کړ. ددغه ځای مشر ئې چي سيد ميرافضل شاه نومېده، جبل ته واچاوه. (۱۱۰)

احمدوني سادات  د سيدانو يوه بله ښاخه ده چي وايي د سيد ډُرجلال بخاري په اولاده کي يو تن سيداحمد نومي ته منسوب دي. سيد ډُرجلال په احمدون کلي اوسېد او په دغه کلي کي د ګزيټر له بيان سره سم، اوس هم د هغوی اولاده استوګن دي. دوی د کاکړانو دود دستور اخيستی دئ او د هغو رسم و رواج پالي.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزي بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رالېږلو مخکي په ځير و لولئ

**د لسمي مي برخي لمنليکونه:**

۱۰۶ـ وګ : Baluchistan District Gazetteer Series:Quetta- Pishin, pp260
۱۰۷ـ دا ارقام او ورپسي تشريحات ئي ما له " بلوچستان کي قبائل" چاپ ۱۹۸۹ع څخه رااخيستي دي. دا کتاب د ګزېټير څخه په اردو ژبه ترجمه سوی دئ او مترجم ئي پروفيسر انور رُومان نومېږي. ( م.هـ)
۱۰۸ـ د بلوچستان کي قبائل په ۱۶۵مخ؟ کي ئي پيخي سادات د سيد دليل اولاده بللي ده.
۱۰۹ـ د کندهار په پښتنو کي دوه کوچني قومونه سته چي ګاړي او خوندي ئي بولي. خونديان هم ځانونه خُجنديان ګڼي. د خوندي په باب دا متل وشمه وراشه سته :
" خوندی بېخونده، نيازی بي نيازه، تره کی هم د خدای بنده دئ مګر د عالم رنګ په زنده دئ".
د کندهار په احمدشاهي ښار کي د ګاړيانو په نامه کوڅه هم سته چي اوس د ښار په دريمه ناحيه کي شامله ده. د کابل ـ کندهار پر لويه لار د جنډې ( اغوجان) رباط جنوب ته د ترنک رود پر غاړه د "ګاړو" په نامه يو کلی هم سته. (م.هـ)
۱۱۰ـ د ګزيټر د بيان له مخي مير افضل شاه په ۱۹۰۵م کال کي لا ژوندی وو.

نور بيا


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رااليرلو مخکي په ځير و لولئ